مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت ۲۰۲۵/۰۸/۱۹

# «ازادي تر پاچاهيه لا تپرى كا...»

مورِ خپلي ازادئ تر لاسه كولو ته، د برتانيي، له استعمار ځخه د خپل اتل ولس په بي شميره قربانيو سره ورسيدو. زمورِ د استقلال تر لاسه كولو اتل غازي شاه امان الله خان، چي د هيواد د پرمختګ او ودانولو له پاره يي بي شميره پروګرامونه په پام كي لرل، د هغه هيلي او ارمانونه چي د خپل ولس او وطن له پاره ورسره وو، د همدي وروسته پاتي او اردو ژبو په خبره، د انپر ولس په لاس له منځه ويورِل شول.

لكه د طالبانو په راتګ سره، يوه پاكستانى، چي زمورِ په ګاونډ كي اوسيده، كله چي ما، د بنوونځيو ترِل كيدلو په هكله ورته يادونه وكړه، سمدستي يي راته وويل:

«تاسي افغانان خو په دوديز ډول، د بنوونځي او علمي زده كړو خلاف ياست.»

دا خبره يي ما سمدستي ځواب كړه او د شاه امان الله ميرمن ملكه ثريا، ورسره له هغه مهاله بيا تر دوه زره يوويشتم ميلادي كال، تر اګست مياشت پوري، د بي شميره افغانو فعالو ميرمنو نوم لړ مي ورته وركړ او هغه مي په خيله خبره، پښيمانه كړه.

دا چي په تيرو څو پيړيو كي، سترو استعماري هيوادونو زمورِ پر هيواد، د ټولو نړيوالو قوانينو خلاف څه ډول تيري وكړل، هغه زخمونه لا اوس هم تازه دي.

او بيا كه اوسني تاريخ ته راشو، د تيرو پنځوسو كلونو په موده كي، چي زمورِ خلك څومره وزورول شول، بي شميره ځاني او مالي زيانونه ورته ورسيدل، عام المنفعه ودانى ونړيدي او ټول هيواد مو په كندواله بدل شو،هغه د ټولي نړۍ د سترګو تر وړاندي، يو څرګند تريخ حقيقت دى.

اوس مهال د اسلامي امارت په واک ته رسيدلو سره، سمه ده، چي يو لړ هغه، اقتصادي پروژي چي د تيرو حكومتونو، په ځانګړي ډول د سردار محمد داود خان او په وروسته كي، د ډاكټر غني ځخه، په هيواد كي د ناارامیو او ګډوډيو له كبله، نيمګړي پاتي وي، پر هغو يي كار پيل كړى دى.

خو د اولس د ژوند بنه كولو او رونټيا را منځ ته كولو له پاره يي، هيڅ هم نه دي كړي او نه به يي وكړي. ځكه خو پر دوي چي څوك نيوكه كوي، هغوي وايي، چي طالبان نيمايي د ايران او نيمايي د پاكستان په امر داسي، كړني كوي.

## ۱ـ زده كړي په تپه ولاړي دي

د طالبانو په راتګ سره په هيواد كي، كوم ستر زيان چي يي، د هيواد ځوان نسل ته رسولى او بنوونيز سيستم يي په تپه درولى، هغه زيان نه، بلكي يو ستر ناورين دى، چي زمورِ د ځوان نسل پوهه او وړتيا د حبيب الله كلكاني، د زماني په ځير راتيټوي، په هغه ډول يي د ناپوهى او جهل تيارو كي ډوبوي. دا چي ويل كيږي، د جينكو له پاره زده كړي بنديي شوى دي، خو د هلكانو د زده كړو سيستم هم خوندي نه دى او سخت ګوزار يي خورلي دى.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همكارئ ته رابولي. په دغه پته له مورِ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكي په ځير و لولئ

نن ورځ نړۍ د فضا په لور لوړې الوتنې کوي، د ځواکمن انسان د خلاق فکر پر مټ او پرمختللې تکنالوژۍ سره، نوې سیارې موندل کیږي او په کې د انسان د ژوند کولو له پاره امکانات برابریږي.

خو زموږ په هیواد کې واک ته رسیدلي، په نوم ملا، زموږ د پوهنتون استادان او رسیدلی عالمان، هیواد پریښودلو ته اړ کړل او ځوانان یې له تحصیل څخه زړه تورن کړل.

کابل پوهنتون کې یو محصل، احمد دین چې د ساینس په پوهنځي کې یې د تحصیل دریم کال و، په دوه زره درویشتم کال کې، پوهنځی پریښود.

هغه یې لا مل داسې څرګندوي:

«زموږ پوهنځي کې د استادانو، درسي سیستم له منځه تللی. پخوا به موږ ته استاد اړونده موضوع په علمي او سیستماتیکه توګه تشریح کوله او موږ به پوهیدو چې، د درسي مضمون، ماهیت څه شي دی او په پوهیدلو کې څومره مخکې ولاړو. اوس هغه استادان نه شته او د درس تشریح داسې چاته پاتې ده، چې په خپله نه پوهیږي، څه وایي. دوي له موږ سره درسی وخت د خپل ژوند په کیسو تیروي.»

دا هسې یوه کوچنۍ بیلګه ده، چې په اوسنۍ نظام کې، زموږ د ځوانانو د علم او پوهې کچه کوم خوا روانه ده او موږ له څه ډول بدمرغۍ سره مخ یوو.نورو ساینسي مضامین له درسي سیستم څخه ویستل، لا بله غمیزه ده.

### ۲ -خلک د نظر څرګندولو حق نه لري

اسلامي امارت چارواکو، له ولس هر ډول مدني او قانوني ازادي او په ټوله کې، له هر یو تن فردي ازادي ازادي اخیستې ده او د ډیرو په خبره ولس یې یرغمل کړی دی.

هغه که د زده کړې او تحصیل اجازه، چې هر انسان ته که نارینه دی او یا ښځینه، د اسلام په مقدس دین کې، ورکړل شوې ده. دغه راز دوي په ټولو رسینزیو خپرونو بندیز لګولی او هر پروګرام، د خپریدلو تر مخه له سخت سانسور سره مخ دی.

### ۳- د ژوند په هر اړخ کې بندیزونه

دا یو څرګند حقیقت دی، چې په ګران هیواد کې اوس مهال، د ژوند په هر اړخ کې بندیزونه لګیدلي او د ژوند چاپیریال تنګ، تورتم او په تیارو کې ډوب دی. ایا موږ خپلواک ولس یوو او که ژوند په قفس کې تیرول دي.

لکه د ښځو له پاره سینګارتون، یا ویښتانو جوړول، په واده کولو کې، هم د دوي هر ډول لاس وهنه، لکه ساز او نور. په لنډه توګه که په سم ډول و ارزول شی، نو د اسلامي امارت چارواکي، د خلکو پر مرۍ ناست دي او لکه قیصۍ ساه ګاني ورته قید کړي دي.

د پښتو ژبې ستر شاعر خوشال خان خټک یې په اړه، څه ښه وایي:

**ازادي تر پاچاهيه لا تيرى کا**
**چې د بل تر حکم لاندې شي، زندان شي**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ